مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۹۲** (از ۹ الی ١٦ دلو ۱۳۹۵ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........................................ ۲

### د افغانستان او پاکستان د اړیکو بڼه کولو نوې هڅې

کابل-اسلام‌آباد کړکېچنې اړیکې ........................................ ۴

آیا کړکېچنې اړیکې پای ته رسېدونکې دي؟ ........................................ ۴

د دوه‌اړخیزو اړیکو راتلونکی ........................................ ۵

### حوادث طبیعی در افغانستان و وضعیت مبارزه با آن‌ها

حوادث طبیعی و میکانیزم مقابله با این حوادث ........................................ ۷

حوادث طبیعی در افغانستان ........................................ ۸

زمستان امسال و اقدامات دولت ........................................ ۹

## مقدمه

د افغانستان او پاکستان ترمنځ خرابې شوې اړیکې له بېلابېلو هڅو سره سره لا هم کړکېچنې دي؛ خو اوس د دغو اړیکو رغولو هڅې یو ځل بیا ګړندۍ شوې دي. په پاکستان کې د افغانستان سفیر عمر زاخېلوال هم تېره اوونۍ له رسنیو سره په مرکو کې وویل، چې دواړه هېوادونه باید دوه‌اړخیزې اړیکې ورغوي؛ ځکه دواړه هېوادونه د اړیکو له ښه کولو پرته بله لاره نه لري.

پاکستاني لوړپوړي چارواکي هم له څه مودې راهیسې د افغانستان په اړه نرمې څرګندونې کوي او هڅه یې دا ده، چې دوه‌اړخیزې اړیکې بېرته ورغول شي. پاکستاني چارواکو له افغان چارواکو هم غوښتي چې د پاکستان پر ضد له څرګندونو لاس واخلي، ترڅو دا اړیکې د ښه کېدو په لور ولاړې شي. دا چې وروستۍ هلې ځلې به د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو ښه کولو کې اغېزناک رول ولوبوي کنه؟ هغه پوښتنه ده، چې د اړوندو موضوعاتو ترڅنګ یې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د دې اوونۍ د تحلیل په لومړۍ برخه کې په اړه شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې د طبیعي پېښو لپاره د افغان حکومت د چمتووالي د وضعیت په اړه لولئ. سږنۍ ژمی د تېرو کلونو په پرتله سوړ دی او د ژمي له پیل راهیسې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې یو شمېر خلک د سړې هوا او درنو ورښتونو له کبله وژل شوي هم دي او زیات شمېر خلک بېړنیو مرستو ته اړتیا لري. په افغانستان کې طبیعي پېښې تل درانه مالي او ځاني زیانونه اړوي، خو حکومت د ادارو له پراخولو سره سره، تراوسه هم کوم اغېزناک ګامونه نه دي اوچت کړي. په دویمه برخه کې مو په افغانستان کې د طبیعي پېښو د وضعیت او د هغو د زیانونو کمولو د تګلارو په اړه شننه کړې ده.

# د افغانستان او پاکستان د اړیکو ښه کولو نوې هڅې



له تېرو څو اوونیو راهیسې د افغانستان او پاکستان د اړیکو رغولو په موخه، په کابل کې د ځینو بهرنیو هېوادونو د ډیپلوماتانو هڅې ګړندۍ شوې دي. په دغو هڅو کې انګلستان د یادونې وړ دی، چې د دغو دواړو هېوادونو ترمنځ یې د منځګړیتوب وړاندیز کړی دی. دا له آسیا زړه کنفرانس وروسته لومړی ځل دی، چې د بهرنیو ډیپلوماتانو له لوري دا ډول هڅې کېږي.

له بله پلوه د نوي میلادي کال په لومړۍ میاشت کې په پاکستان کې د افغانستان د ولسمشر ځانګړي استازي او سفیر عمر زاخېلوال هم د پاکستان د جمعیت علمای اسلام (سمیع الحق) ډلې له مشر مولانا سمیع الحق سره دوه ځله ولیدل. په دویمه ناسته کې افغان ولسمشر اشرف غني هم له مولانا سمیع الحق سره په ټېلېفون خبرې وکړې. ډېری افغان طالبانو د مولانا سمیع الحق په مدرسو کې زده‌کړې کړې او د طالبانو یو شمېر علماء بیا د مولانا سمیع الحق له حقانیې مدرسې سره د ځانګړې مناسبت (زده‌کړو) له کبله حقاني تخلص هم له خپلو نومونو سره زیاتوي.

د دې ترڅنګ د پاکستان یو شمېر نورو ډلو لکه پیپلز ګوند او قومي وطن ګوند مشرانو هم په دې وروستیو کې د کابل او اسلام‌آباد ترمنځ د اړیکو رغولو په تړاو څرګندونې کړې دي.

دا چې د ملي یووالي حکومت پرمهال د کابل-اسلامآباد اړیکې څرنګه وې، د افغان-پاک د کړکیچنو اړیکو اغېزې څه وې، آیا د دغو دوه‌اړخیزو اړیکو د کړکېچنتیا پړاو پای ته رسېدونکی دی او د دغو اړیکو راتلونکی څه دی؟ په دې تحلیل کې هڅه شوې، چې دا او دې ته ورته پوښتنې ځواب شي.

## کابل-اسلامآباد کړکېچنې اړیکې

د ملي یووالي حکومت پرمهال افغان-پاک اړیکو، د دواړو هېوادونو د دوه‌اړخیزو اړیکو په تاریخ کې په بې‌سارې توګه لوړې-ژورې ولیدلې.

په افغانستان کې د ملي یووالي حکومت له جوړېدو سره د کابل او اسلامآباد ترمنځ اړیکې نږدې شوې؛ لومړی افغان ولسمشر پاکستان ته زیات امتیازات ورکړل او بیا پاکستان افغان ولسمشر ته ځانګړی پروتوکول ورکړ، چې د پاکستان له‌خوا یوازې د چین او سعودي ولسمشرانو ته ورکول کېږي.

خو په هېواد کې د ناامنیو له زیاتېدو او د مري له لومړۍ ناستې وروسته د خبرو اترو مېز ته د طالبانو د نه حاضرېدلو له کبله د کابل-اسلاماباد اړیکې خرابې شوې او له کبله یې د دواړو هېوادونو ترمنځ بې‌باوري زیاته شوه. د تورخم او چمن پر سرحدي پوله خونړۍ نښتې وشوې او د اسیا زړه کنفرانس کې افغانستان په لومړي ځل د یوه هېواد (پاکستان) مرسته رد کړه.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د کړکېچنو اړیکو له کبله شونې شوه، چې په ۲۰۱٦ کال کې له پاکستانه تر پنځه لکه زیات افغان کډوال هېواد ته راستانه شي. د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګري تر یو ملیارد ډالرو پورې راکمه شوه او د پاکستان له لارې د افغان توکو ترانزیټ هم کم شو.

## آیا کړکېچنې اړیکې پای ته رسېدونکې دي؟

د افغانستان او پاکستان ترمنځ کړکېچنې اړیکې د پاکستان د رامنځته کېدو راهیسې شته دي او پر افغانستان د شورویانو له یرغل سره یې شدت زیات شو. په پیل کې په بنسټیزه توګه د افغانستان او پاکستان ترمنځ دوې مهمې قضیې وې: د ډیورنډ کرښه نه منل او د پښتونستان غوښتنې د تحریک ملاتړ. د شورویانو له یرغل وروسته د ستراتېژیک عمق قضیې هم پر دوه‌اړخیزو اړیکو ژور سیوری وغوړاوه.

د ملي يووالي حکومت پرمهال د افغانستان او پاکستان ترمنځ د کړکېچنو اړيکو تر شا پورته قضيو په غير مستقيمه توګه او په هېواد کې ناامنيو، د طالبانو لهخوا د اسلامآباد د چوپتيا له کبله د افغان حکومت پرضد د پاکستان د خاورې کارېدنه او د پاکستان لخوا د خبرو اترو مېز ته د طالبانو په حاضرولو کې ناکامي په مستقيم ډول د دې لامل شول، چې دوهاړخيزې اړيکې خرابې شي.

داسې مهال د بهرنيو ديپلوماتانو له خوا هڅې او په تېره بيا د انګلستان د منځګړيتوب وړانديز به يوازې په ډېر لنډمهال کې ښايي دوهاړخيزې اړيکې ورغوي؛ خو په اوږده مهال کې به بيا هم د دواړو هېوادونو اړيکې پر پورتنيو يادو شوو قضيو متکي وي.

انګلستان له دې وړاندې هم د کرزي د دورې پرمهال څو ځله د افغانستان او پاکستان ترمنځ منځګړيتوب کړی و او په دې تړاو درې واړو هېوادونو درېاړخيزې ناستې هم کړې؛ خو پايله يې تر ډېره د پاموړ نه وه.

د دې ترڅنګ، که چېرې د لوړپوړو افغان چارواکو دا ستراتېژيک فکر، چې يوازې پاکستان کولای شي افغان طالبان د خبرو اترو مېز ته حاضر کړي، بدل شوی وي؛ نو بيا هم په لنډمهال کې دوهاړخيزې اړيکې رغېدلای شي؛ خو په اوسنيو شرايطو کې دا تر ډېره ناممکنه برېښي.

## د دوهاړخيزو اړيکو راتلونکی

که څه هم يو شمېر خلک د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړيکو رغېدل د بنسټيزو مسايلو له حل کېدو پرته، چې پورته ورته اشاره وشوه، ناشوني بولي؛ خو په نړۍ کې يو شمېر هېوادونه شته، چې خپلې سرحدي قضيې او نور مسايل يې شاته غورځولي او ترمنځ يې مناسبات تر ډېره اقتصادي بڼه لري. په همدې ډول افغانستان او پاکستان هم کولای شي، چې د ډيورنډ قضيې له حل کېدو پرته هم ښې اړيکې ولري؛ خو دا بيا د دواړو هېوادونو له ژور تدبير سره تړلې ده.

په اوسني وخت کې د کابل-اسلاماباد اړيکې ترډېره له دوو خبرو سره تړلې دي. لومړی، د پاکستان له لوري له افغان حکومت سره دا ژمنه چې افغان طالبان به نور د افغانستان پرضد د پاکستان خاورې استعمالولو ته نه پرېږدي. دويم هم له افغان طالبانو سره په خبرو اترو کې د دواړو (کابل او اسلامآباد) داسې چلند، چې بالاخره د پاکستان په نظارت (نه منځګړيتوب) د کابل او طالبانو د قطر دفتر ترمنځ پر خبرو اترو پای ته ورسېږي. په دې توګه به په لنډ او منځمهال کې د دواړو هېوادونو اړيکې ورغېږي او په اوږده مهال کې ښو اړيکو ته به هم زمينه مساعده کړي.

# حوادث طبیعی در افغانستان و وضعیت مبارزه با آن‌ها



حوادث مرگبار طبیعی و برف‌باری‌های شدید همه‌ساله از مردم افغانستان قربانی می‌گیرد و بی‌جاشده‌گان داخلی و آسیب‌دیده‌گان چنین حوادث، در کنار تلفات با مشکلات گونه‌گون دیگر مواجه می‌شوند، ولی از یک سو به اقدامات پیشگیرانه در این زمینه توجه لازم صورت نمی‌گیرد و از سوی دیگر پس از وقوع حوادث نیز عملکرد حکومت همواره ضعیف بوده است.

داکتر عبدالله عبدالله رئیس اجرائیهٔ حکومت وحدت ملی روز دوشنبه (11 دلو 1395) در نشست شورای وزیران بیان داشت که برف‌باری‌های اخیر در ولایات مختلف کشور، در کنار سایر مشکلات تلفات سنگینی در پی داشته و او خواستار کمک‌های عاجل نهادهای سکتوری در این زمینه شد. به گفتهٔ او «برف‌باری‌ها شدیدتر از آنچه است که ما تا حال آماده‌گی آن را گرفته بودیم».

بربنیاد خبرنامهٔ وزارت دولت در امور رسیده‌گی به رویدادهای طبیعی در افغانستان، از آغاز فصل زمستان سال جاری در چندین ولایت کشور به اثر سردی هوا و بارش برف و باران 21 تن جان باخته و 16 تن دیگر زخم برداشته‌اند. در خبرنامه همچنان گفته شده که 21 منزل مسکونی کاملاً تخریب و 59 منزل دیگر قسماً تخریب گردیده‌اند.

پس از نشر این خبرنامه، مقام‌های ولایت جوزجان نیز خبر دادند که 47 تن که بیشتر آنان کودک بودند، در اثر سردی هوا در ولسوالی درزاب این ولایت جان باخته‌اند. به گفتۀ آن‌ها این افراد به دلیل عدم دسترسی به مراکز صحی، مسدود بودن راه‌ها و نبود سرپناه‌ها، جان داده‌اند.

اینکه حوادث طبیعی پس از حوادث امنیتی، بیشترین قربانی را از مردم افغانستان می‌گیرد، در این تحلیل به حوادث طبیعی و وضعیت آماده‌گی حکومت به این حوادث، پرداخته شده است.

## حوادث طبیعی و میکانیزم مقابله با این حوادث

حوادث طبیعی با انواع گوناگون مانند زلزله، طوفان، رعد و برق، سیلاب، برف‌کوچ، خشک‌سالی، افزایش درجه حرارت و غیره اتفاق می‌افتند. برخی حوادث طبیعی به گونۀ غیرمستقیم از عملگرد انسان‌ها به وقوع می‌پیوندند. به گونۀ مثال، آلوده‌گی هوا و تخریب جنگل‌ها به دست انسان‌ها که در سرازیر شدن سیلاب‌ها نقش مهمی دارد.

در کل، همه حوادث طبیعی از پیش‌آمدهای ناگواری است که همه‌ساله در گوشه و کنار جهان به اشکال مختلف اتفاق می‌افتد و باعث خسارات مالی و جانی سنگینی می‌شود. هرچند جلو این‌گونه رویدادها گرفته نمی‌شود، اما دستورالعمل‌های مقابله با این گونه رویدادها و اقدامات پیشگیرانه‌ای وجود دارد که تهدیدها و زیان‌های چنین حوادث ناگوار طبیعی را، کاهش می‌دهند.

بر اساس مطالعاتی که در مورد کاهش زیان‌های حوادث طبیعی انجام شده، این سلسله دارای چهار مرحله می‌باشد:

**اول:** اوقات پیش از وقوع حوادث غیرمترقبه؛

**دوم:** زمانی که اسباب حوادث طبیعی موجود شود؛

**سوم:** هنگام بروز حادثه؛

**چهارم:** مرحلۀ پس از وقوع حادثه.

مهم‌ترین مرحله، مرحلۀ پیش از وقوع حوادث است که می‌توان با استفاده از امکانات دست داشتۀ ادارات مبارزه با حوادث طبیعی تدابیر لازم گرفته شود و این ادارات ظرفیت‌سازی کند تا برای هرگونه حوادث ناگوار

تدابیر لازم را روی دست داشته باشد. در کنار این، از سوی این ارگان‌ها به مردم آگاهی داده شود و تهدیدها و زیان‌های همچو حوادث، با اقدامات پیشگیرانه کاهش داده شود.

## حوادث طبیعی در افغانستان

افغانستان سرزمین کوهستانی و محاط به خشکه است و میزان حوادث طبیعی چون زلزله، برف‌کوچ‌ها، طوفان‌ها، سیلاب‌ها، لغزش زمین و غیره در آن بالا است. سردی طاقت فرسا در زمستان و همچنان خشک‌سالی‌ها نیز از جملۀ چالش‌های دیگر مردم در افغانستان می‌باشد.

افغانستان دوازدهمین کشور زلزله‌خیز و بیست‌وچهارمین کشور سیلاب‌خیز در جهان است و از نظر خشک‌سالی نیز بیست‌ودومین کشور در جهان به شمار می‌رود.

آمار تقریبی نشان می‌دهد که از سال 1970 تا سال 2012 میلادی حدود 9 الی 20 هزار تن تنها از اثر زلزله در این کشور کشته شده‌اند. تنها در سال 2012 حدود 383 رویداد طبیعی در افغانستان رخ داده که به بیش از 258 هزار نفر در 195 ولسوالی آسیب رسانیده است. وقوع این حوادث باعث کشته شدن 479 نفر شده است.

یکی از مرگبارترین حوادث طبیعی در افغانستان، وقوع زلزله در سال 1998 بود که تنها در ولایت تخار برعلاوۀ خسارات مالی حدود چهار تا چهار نیم هزار تن در آن کشته شدند و بیش از ده هزار نفر دیگر زخمی شدند. در سال‌های 2002، 2005، 2009، 2010، 2012، 2013 و 2015 نیز زلزله‌های شدید به وقوع پیوسته که گاه‌گاهی صدها تن در پی آن کشته و زخمی شده‌اند و مرکز بیشتر این زلزله‌ها کوه‌های هندوکش بوده است. حادثۀ دیگری که در تاریخ معاصر افغانستان بی‌پیشینه خوانده شده، لغزش زمین در ولسوالی ارگوی ولایت بدخشان در سال 2014 بود که باعث کشته شدن بیش از 2500 تن شد. در این حادثه 300 خانۀ مسکونی به صورت کامل زیر خاک شد.

ارگان‌های مبارزه با حوادث طبیعی مسوولیت و صلاحیت دارند تا خطرات و طرق کاهش آن‌ها را شناسایی نموده و در صورت بروز حادثه، به شکل فوری پروسۀ نجات مردم را آغاز و در منطقه آسیب‌دیده پلان‌های احیای مجدد را عملی نمایند.

فعالیت‌های اداره‌های مبارزه و رسیده‌گی به حوادث طبیعی در سال‌های گذشته موثر نبوده و با مصرف بودجهٔ هنگفت مالی نتوانسته به مشکلات مردم در این زمینه پاسخگو باشند. نبود برنامه و ضعف مدیریت در مبارزه با حوادث طبیعی و کمبود امکانات و افراد متخصص در این بخش، از جدی‌ترین مشکلات حکومت افغانستان در امر مبارزه با حوادث طبیعی است. ارگان‌های مربوطه همه‌ساله از تدابیر جدید برای وقوع هرگونه فاجعهٔ طبیعی سخن می‌زنند، ولی زمانیکه چنین حوادث رخ می‌دهند، این ارگان‌ها در رسیده‌گی به آسیب‌دیده‌گان ناکام می‌شوند و خسارات سنگین مالی و جانی به مردم وارد می‌شوند.

## زمستان امسال و اقدامات دولت

در حال حاضر شمار بی‌جاشده‌گان داخلی در افغانستان که در وضعیت ناگوار زنده‌گی می‌کنند، به حدود 1.2 ملیون تن می‌رسد و از جانب دیگر، در سال جاری بیش از 800 هزار مهاجر افغان نیز از کشورهای همسایه به کشور بازگشته اند. زمستان امسال که نسبت به سال‌های پیش سردتر می‌باشد، برای بی‌جاشده‌گان داخلی و مهاجرینی که تازه به کشور بازگشته اند، مشکلات زیادی به بار آورده و تاکنون ده‌ها تن در اثر سردی هوا و برفباری‌های شدید کشته شده‌اند.

رئیس اجرائیهٔ حکومت وحدت ملی در جلسهٔ شورای وزیران از فراخوان 550 ملیون دالری برای رسیده‌گی به وضعیت بشری در افغانستان در سال 2017 یادآور گردید و افزود که بر اساس تخمین سازمان ملل، 9 ملیون تن در این سال به کمک‌های بشری نیاز دارند. داکتر عبدالله در رابطه با برفباری‌های شدید اخیر در ولایات مختلف کشور تایید کرد که آماده‌گی‌ها در مقایسه با تلفات و زیان‌های حوادث طبیعی ناچیز بوده است.

ویس برمک، وزیر دولت در امور مبارزه با حوادث طبیعی هفتهٔ گذشته در یک نشست خبری در کابل گفت که در جریان سال جاری خورشیدی، برای مبارزه با حوادث طبیعی 700 میلیون افغانی در نظر گرفته شده بود؛ اما به گفته‌ی او، با افزایش حوادث امنیتی و بالا رفتن میزان بی‌جاشده‌گان، این رقم به 1.6 میلیارد افغانی افزایش یافت.

در حالیکه حکومت وحدت ملی سال گذشته ادارهٔ مبارزه با حوادث طبیعی را به وزارت دولت در امور مبارزه با حوادث طبیعی، ارتقا داد و حکومت تعهد نمود که وزارت مبارزه با حوادث را از نگاه حقوقی، اداری و ظرفیتی تقویت خواهد کرد؛ اما متاسفانه حکومت در امر مبارزه با حوادث طبیعی عملکرد ضعیف داشته و تاکنون تغییر

آنچنانی در این مورد به خصوص در زمینهٔ اقدامات پیشگیرانه به وجود نیامده است. هنوز هم اقدامات این نهاد به ثبت حوادث طبیعی و کمک‌رسانی به افراد بعد از حادثه متمرکز است.

در کنار وزارت مبارزه با حوادث طبیعی چندین نهاد دیگر داخلی و چندین نهاد خارجی مانند (OCHA، UNICEF، IOM، IMMAP، UNHCR، WFP، ACBAR، ARCS) نیز همکار اند؛ ولی با آن هم ادارات مربوطه امدادرسانی و رسیده‌گی به آسیب‌دیده‌گان را به گونهٔ ناقص به پیش می‌برد و پیش از وقوع رویدادها برای جلوگیری و یا حداقل کاهش زیان‌ها، کاری صورت نمی‌گیرد. عامل این ضعف، موجودیت مشکلات در ساختار نهادهای مربوط به مبارزه با حوادث طبیعی می‌باشد که نیازمند توجه جدی حکومت است.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 789316120 abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.